مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیدعبیدالله نادر
۲۰۲۲/۰۱/۲۳

# لمره!

ته د خدای تعالی یو لوی او عظیم نعمت یې ،چې ، د دنیا په مخ او گوټ گوټ کې ظلمتونه او تیارې په تا رڼا کیږي ،بلکه ډیر یو لوی طاقت او قوت د ځمکي د پاره ، او د ځمکي د اوسیدونکو د پاره یې ،تا د ډیرو کلنو راهیسي چې انسانان یې په خپل فکر او هوش سره اندازه او اټکل نه شي کولای ، د دي ځمکي پر مخ خپلي زریني وړانگي پلني کړي دي او جهان ته دي روښنایي ورکړې ، له بی حسابه کلنو راهیسي هر سهار ستا زریني وړانگي ،په کنډرنو،غرونو،په لوړو څوکو او ځنگلونو پر سر لگیدلي ،ته دي خالق یوه ډیره لویه معجزه یې ،ستا له رویه هم ډیر مظاهر د قدرت عیان کیږي ، ستا حکمت ته ډیر محققین په حیرت کې دي.

تا عالم ته روح بخښلی ،ستا وړانگي نه یواځې ځمکي ته بلکه ډیرو نورو ستورو ته هم رسی ،زمونږ د کیهانی نظام د عجائیبو نښه ته یې ، بشر په دومره پرمختگ او ترقی سره ،تر اوسه په دي نه دي پوهیدلي چې په تا کې څه اسرار موجود دي ، او په تا کې څه دي ،دا هم ستا د لوی والي او عظمت نښې دي ، ته د اسرارو ډکه یوه خزانه یې ،او لاینحله معما ،چې ډیر فلسفي ذهنونه ستا د اسرارو د کشف په لاره کې ستړي شول ،خو ته هماغه هره ورځی ځان ښایي او خپل دنده چې رَب درکړې ،هغه خپل ستورو ته وړاندی کوې.

ډیرمحققین ستا اسرارو ته په گوندو دي ، تا خپله رڼا په گنهکار او بی گناه یو راز شیندلی ده ، ته پس له خالقه د سخاوت یو بله نمونه یې ، ستا د دي لا ینحله معما او پټو رازونو د کشف په لار کې د بشر د ابتدا نه تر اوسه پوری ، ډیرو فلسفیانو خپل سوچونه کړي او فکرونه ستړي شوي ، خو څوک نتیجې ته نه دي رسیدلي ، مونږ نه پوهیږو چې ته څه یې ، او تاکې څه دي ،او داسي بی پایانه انرژی او قوت یې، چې نه ختمیدونکی ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ